# Morality in the Poetry of Hamid Baba

# د حمید بابا په شاعرۍ کښې اخلاقیات

Dr. Noor Muhammad (Danish Betani)*

**Abstract**

Hamid Baba is popular poet amongst Pashtuns. He was romantic, mystic poet. Most of his poetry reflects morality, humanity, character building etc.This is one of the qualities of his poetry that he addresses the human in simple and understandable language. Like his language his message is also simple and have understandable approach. This paper will high light to the moral approach reflects in his poetry.

***Key Words:***Pashto, Pashto poetry, morality, habits, character, Quran, Prophet.

اسلام د دنیا په مخ تر ټولو نۀ لوے ،اوچت او غوره مذهب دے. په دینِ اسلام کښې د ژوند ټوله فلسفه رانغښتې شوې ده. د ژوند ټولو مسائلو حل کولو ویړیا او بشپړه قوت لري. او خپلو پېروکارو (مانونکیو) ته د " امربالمعروف ونهي عن المنکر[1] "درس ورکوي. د عمل کولو او ځان ژغورنې په دې درس کښې اخلاقیات یوه غټه موضوع ده.

اخلاق دخُلق جمع ده. خُلق په معنٰی د خو، خوبۍ، عادت او خصلت راځي. په ظفراللغات کښې ئې داسې معنیٰ شوې ده.

اخلاق ( اخ . لاق ) ع د خُلق جمع . خویونه، عادتونه، د راشه درشه، خصائل، عادات، سړیتوب،انسانیت، مُروت.[2]

داردو ژبې په لغت " فیروزاللغات " کښې ئې پوهان داسې معنیٰ کوي.

اخلاق (اخ-لاق) ع-ا-مذ) خلق کی جمع (1) پسندیدہ عادتیں-اچھیں خصلتیں (2) خوش خوئ-اچھا برتاؤ-ملنساری-کشادہ پیشانی—خاطر مدارت—آو بھگت (ان معنوں میں بطور واحد مستعمل ہے) (3) (فلسفہ) وہ علم جس میں تہذیب نفس اور سیاست مدن پر بحث کیجاتی ہے-[3]

د فلسفې په لغت کښې د اخلاقو پېژندنه څهٔ داسې شانتې شوې ده.

Morality (from the Latin *moralitas* "manner, character, proper behavior") is the differentiation of intentions, decisions, and actions between those that are distinguished as proper and those that are improper. Morality can be a body of standards or principles derived from a code of conduct from a

---

* Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar

particular philosophy, religion, or culture, or it can derive from a standard that a person believes should be universal. Morality may also be specifically synonymous with "goodness" or "rightness. "Ethical philosophy is the Golden Rule, which states that: "One should treat others as one would like others to treat oneself."[۴]

ژباړه: اخلاقيات (لاطيني لفظ "مارلټاس" نه اخذ شوے دے چې سلوک، کردار او خاص روئې ته وئيلے شي) دا د ارادو، فېصلو او کارونو هغه بيلګون دے چې دخاص او عام تر مېنځه ئې فرق کېږي. اخلاق د هغه معيارونو يا اصولو نوم دے چې د فلسفې مذهب يا کلتور د يوې خاص ضابطې نه اخستے شوي وي يا دا (اخلاق) به د هغه معيار نه اخستے شوي وي چې ديو کس په خيال هغه آفاقي وګڼلے شي. اخلاقياتو ته خصوصاً دښۀ والي او په حق دکېدلو مترادف هم وئيلے شو. اخلاقي فلسفه دسرو زرو هغه اصول دے چې دا وائي:
"يو کس دې خلقو سره داسې رويه ساتي څنګه چې ئې دنورو خلقو نه طمع کېږي"
اخلاق په دوه قِسمه دي۔ ښو اخلاقو ته"اخلاق حسنه"او بدو اخلاقونه "اخلاق رذيله" وائي۔ په ټولو کنجه دنيا کښې داسې يو مذهب هم نشته چې دښو اخلاقو ستائينه اودبدواخلاقوغندنه نۀ کوي يائې کړې نۀ وي ۔ ان تردې چې داسلام نه وړاندې ديونان پوهانو زيبااخلاق دحُسن معيار ګڼلو ۔ د اول ورځ نه ترننه پورې چې څومره انبياء تير شويدي ټولودښو اخلاقو درس ورکړے دے۔ او په دنيا کښې چې څومره نيک خلق اوسېږي هغه وخت په وخت دښو اخلاقودرس او ښودنه کوي۔
الله پاک په خپل کلام کښې د سرور کائنات فخر موجودات حضرت محمد ﷺد اخلاقو په باره کښې داسې فرمائي
,, وَاِنَّکَ خُلُقٍ عَظِيۡم ،،[۵]
مفهوم دے بے شکه ستاسو پيغمبردا خلاقو په اعلیٰ درجې فائزدے (درجې باندې دې)۔
په يو بل ځائے کښې الله پاک داسې فرمائي۔
لَقَدۡ کَانَ لَکُمۡ فِيۡ رَسُوۡلِ اللهِ اُسۡوَة حَسَنَة[۶]،
ترجمه :- په تحقيق سره تاسو دپاره د حضور صلی الله عليه وسلم ژوند بهترينه نمونه ده۔
زمونږخوب پيغمبرمحمد ﷺدښو اخلاقو په لړ کښې داسې فرمائي۔
اِنَّ مِنۡ خِيَارِ کُمۡ اَحۡسَنَکُمۡ اَخۡلَاقًا[۷]

مفهوم:- بې شکه په تاسو کښې هغۀ کس بهتر دے چې څوک په ښو اخلاقو سره ښائسته وی ـ په یو بل حدیث کښې دښو او زیبا اخلاقو په باري کښې داسې فرمائي۔
بُعثت لا تمیم حسن الاخلاق [۸]
مفهوم:- زه د ښو اخلاقو پوره کولو دپاره رالیږلے شوې یم ـ یعنی زما بعثت ده ښو اخلاقو د تعلیم ورکولو دپاره شوے دے ـ
د اخلاقیاتو دغه حکمونه او فضیلتونه دحضوردزماني اودهغې نه ورستو ټولو مسلمانانو دی ـ بائد چې مسلمانان ددې حکمونو اوفضیلتونولاندې ژوند تېر کړی ـ د نړۍ په مسلمانانو کښې پښتانۀ من حیث القوم په مجموعي توګه مسلمانان دي ـ په پښتانو کښې وخت په وخت داسې کسان تېر شوي دي او هم شته چې وخت په وخت ئې د اسلامي فکر په تتبع کښې د ښو زيبا او شائسته اخلاقو خپلولو او د بدو اخلاقو نه ځان ژغورنې درس ورکړې او اوس ئې هم ورکوي ـ حمید بابا د پښتون قام يوډېر لوے شاعر تېر شو ے دے ـ چې د شعر په ژبه ئې د اخلاقیاتو درس ورکړےدے ـ د عشقیه شاعرۍ سره سره حمید بابا د اخلاقِ حمیده یو غټ مبلغ او مدرس هم وو۔
حمیدبابا په خپلې شاعرۍ کښې د دنیا ناپائېدارۍ ،د زرپرستۍ ،زورګېرۍ،غندنه او د قناعت او داسې نورو ښو اخلاقو ستائنه او درس ورکړې دے ـ هغه د انسان او بالخصوص د پښتون فلاح و کامیابۍ په ښو اخلاقو کښې پټه ګڼي ـ ځکه ئې په خپله شاعرۍ کښې ځا ےپه ځا ے د ښو اخلاقو درس ورکړې لکه چې وائي ـ

هسې ځان ګڼه روان له دې جهانه
لکه اوښکې د بڼو پښه په رکاب [۹]

ددنیاناپائیداري:- دنیاته ثبات نشته ،قرار نشته ،یوهورځ به دا دنیاختمېږی ـ دا دنیا فناکېدونکې ده ـ ددې همېش والې نشته ـ ددې مثال دغنی دجالې ده ـ د دنیا عمرډېرلږ دے ـ
دپښتوپلار خوشحال خان خټک ددې فانی دنیا په باري کښې داسې وائی ـ

راشه زړۀ ورپورې مه تړه نادانه
که ئې ګورې دا فاني دنیا داني ده [۱۰]

داخلاقیاتو خبره به وي او رحمن بابا ذکر به نۀ وي ـ هر ګز نه ـ رحمن بابا وائي ـ

عاقبت به د اجل په مقراض غوث شي

پیوسته به مدام نۀ وي تار د عمر[11]
حمید بابا ورته داسې نظر کوي.
نۀ زماده نۀدستا ده دا دنیا
پاتې شوې له هر چاه دا دنیا
مروت داشنائې پکښې څۀ نشته
که اشناده نا اشنا ده دادنیا
په رڼا ئې دچاکار نۀ پوره کېږی
داسمان برق او بریښنا ده دادنیا
بې هوده ئې زړۀتړې په ډنګډونګ پورې
دګړۍ میلمنه وراده ددادنیا [12]
په یو بل ځائے کښې داسې وینا کوي:
دنابودې دنیابودبرق وبریښنا ده
نشي زېرمه دبرېښناپه رڼا هیڅ
دانیمګړې هیچانۀ ده پوره کړې
تربریښنا ئې ذیاته نۀ ده بقاهیڅ[13]
په یو بل ځائے کښې خپل فکر داسې څرګندوي.
ددنیاله سرایه تلۀ دي له ارمانه
که پنځۀ کاله ژوندون وي که پنځوس [14]

د زرپرستۍ غندنه :- د زرو یعني د مال ودولت بندګي کولو ته زرپرستي وائي. مطلب دا چې مال و دولت ته دومره مقام ورکول او ورپورې زړۀ تړل چې د الله تعالیٰ بندګي د بنیادم نه پاتې شي او بنده د مال غلام جوړ شي. د دې متعلق الله پاک په قران پاک کښې فرمائي.

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْ لاَ تُلْهِکُمْ اَمْوَالُکُمْ وَ اولاَدُکُمْ عَنْ ذِکْرِ اللهِ[15]،،

ترجمه :- اے ایمان والو ! ستاسو مالونه او اولاد چې تاسو دالله تعالیٰ د ذکر نه غافله نۀ کړي. په دې حقله حضور صلی الله علیه وسلم فرمائي :-

,, حُبُّ الدُّنْیَا رَاْسُ کُلِّ خَطِیْئَةٍ[16]،،

ترجمه :- د دنیا مینه د ټولو خطایانو سر دے.

ددې ایتونو او حدیثونو په حقله مفسرین او محدثین فرمائي چې مال څۀ دومره بد څیز نۀ دې خو چې د دې مینه زړۀ ته کوزه نۀ وي. یعني که په زړۀ کښې دې د الله تعالیٰ وېره وي نو په مالدارۍ کښې څۀ زیان نشته. دغه شان مال و دولت نعمت او غنیمت دے. حمیدبابا د زرپرستۍ په غندنه کښې د خپل فکر نیلۍ د شعرپه ډګر داسې زغلوي.

ددنیا دمال په تللو دلګیر مۀ شه
مات ازغی دې له پښتو خیژی زهیرمه شه
وایه سپک ښۀ دے که دروند د سرپټورے
فقیری درلره ښه ده امیر مۀ شه.[17]

بل ځاے کښې حمید باباداسې وائي.

ترګدایه سر درد د بادشاه ډیروي
هغه غم کړه دګلیم دا داقلیم.[18]

په یوبل ځائے کښې داسې ویناکوي.

دانایان په دنیانښته سره نۀ کا
داپه داچې په مرداره سګان نښلی[19]

زورګیری:- ظلم جبر ته زورګیری وئیلې شی. الله پاک هم په ظالمانو لعنت وائي. په قرآن کښې الله فرمائی. اَلاَ لَعۡنَةُ اللهِ عَلَی الظّٰلِمِيۡنَ[20]،

ترجمه:- خبردار! الله تعالیٰ په ظالمانو لعنت کړے دے.

د ظالم او د مظلوم په حقله حضور صلی الله علیه وسلم فرمائي:-

,, اِتَّقِ دَعۡوَةَ الۡمَظۡلُوۡمِ فَاَنَّهَا لَيۡسَ بَيۡنَهَا وَ بَيۡنَ اللهِ حِجَابٌ[21]،،

**مفهوم**: دمظلوم بددعانه ځانونه وژغورۍ. ځکه چې دمظلوم بددعااودالله تعالی تر مینځه پرده نه وی. حمید باباداسې بیانوی.

دمظلوم داآزارغشی رسالګي
هیڅ ګوذارئې خطانۀ درومی عبس
هرسړے چې له آزاره بازار غواړي
ددارو په طمع ذهرخوري ناکسن[22]

بل ځائے کښې داسې فرمائی۔
دمظلوم دآه ازار چاته ومهٔ شه
عالمانونه ئې ورانېږي له ارخښنه[۲۳]
په بل ځائے کښې حمید بابادغه خبروته داسې نظر کوی۔
ځوبه خورې پردي مالونه په ستم
یوه ورځ به دې په نس کښې شي اړم

د مظلوم د مال روټۍ خپله بوټۍ خوري
مه شه هیڅ په دا ادراک خوښ د خرم
د ستم په دام درم مه هوسېږه
مه کړه خدا ے مار او لړم دا همدم

چرې نهٔ شې د هاتهي تر قدم لاندې
په عاجزمچ او مېږي مه ږده قدم

زر په زر به دې دیوال دعمر پرېوځي
چې په زدوي د مظلوم د اوښوزیم

د ظالم د ودانۍ مخ په ورانۍ دے
دا خبر دې په جهان کښې مسلم [۲۴]
قناعت:- د خدائے پاک په ورکړې صبر کول او شکر ادا کول قناعت بللے شي۔ قناعت صفت دے چې انسان ته عظمت وربخښي۔ په دې حقله حضور صلی الله علیه وسلم فرمائي۔
ما عل من القتصدا
ژباړه:- ځوک چې مېنځګړې خرچه کوي کله به محتاج نهٔ شي۔ مطلب دا چې زیات خواهش نهٔ کوي او په لږ قناعت کوي۔
بل ځا ے کښې حضور صلم فرمائي۔
مَا قَلَّ وَ كَفٰى خَيْرٌ مِمَّا كَثُرَ وَ اَلْهٰى[۲۵]
مطلب دا چې کوم مال کم وي او کفایت کوونکے وي۔ د هغې مال نه بهتر دے چې ډېر وي او

غافله کوونکے وي۔

محدثین فرمائي چې په دې حدیث کښې د مال حرص مذمت شوے دے۔ ځکه چې د مال حرص د انسان په طبیعت کښې موجود دے۔ که چرته قابو ئې نۀ کړي نو شپه ورځ په مال پسې لګیا وي۔ داسې انسان ته له خبرتیا ورکولے شي چې انسان دې په لږ څۀ قناعت کوي۔

حمیدبابا د قناعت فلسفه داسې بیانوي۔

قناعت مې اشتها کړه هسې صافه
چې اوکره راکوي خوند لکه حلوا [۲۲]

بل ځاے کښې حمید بابا وائي چې قناعت په وجه انسان د ډېروبلګانو نۀ خلاصېږي

قناعت د حمید زړۀ له غمه خلاص کړ
باد اثر نۀ کړي په شمع د فانوس [۲۷]

بل ځاے کښې د قناعت دُعا په دغه الفاظو کښې غواړي۔

قناعت راته عطا کړے زما ربه
ورک زماحرص و هوا کړے زما ربه [۲۸]

اخلاص :-اخلاص دیوداخلی کیفیت نوم دے۔ خوبیاهم ددې تعریف څۀ داسې کیږي۔ چې اخلاص درشتونې مینې او جذبې نوم دے۔ اخلاص هغه سحر دے چې ټوله دنیامسحر کولې شي۔ خوشحال باباداخلاص بارې کښې دغه رنګ نظر څرګندوي ۔

هرسړے چې داخلاص په لارې درومي
که هر څو په غرور درومی نۀ به نعومي [۲۹]

او حمید بابا ورته داسې نظر کوي۔

که ئې پښو لره رانغےزۀ ضامن یم
که څوک ډېر له درنده کاندې اخلاص

هغه کار چې سحرګر کاندي په سِحر
تر هغه ئې څوچنده کاندي اخلاَص

سم دلاسه زوړ کافرد سلو کالو
واسلام ته خواهنده کاندي اخلاص [۳۰]

د نفس پرستۍ غندنه:- نفس د انسان دننه يو قوت دے چې د انسان نه د خير يا د شر خواهش کوي. د نفس خير منونکي نمانځنه او د شر منونکي د (نفس پرستۍ) غندنه شوې ده. د پاک او ناپاک نفسونو په حقله الله تعالىٰ فرمائي :-

قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَکّٰهَا وَ قَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰهَا[۳۱]

ترجمه :- په تحقيق سره کامياب شو هغه کس چا چې پاک کړو خپل نفس او نامراده شو هغه کس چا چې سخا کړو خپل نفس.

نفس پرستي يو داسې رنځ دې چې د ښو او بدو تر مېنځه فرق ختموي. ناروا سړي ته روا کړي. نفس پرست انسان تل خوار و ذليل وي. په دې حقله حضور صلی الله عليه وسلم فرمائي :-

,, اَلْکَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَہٗ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَالْمَوْتِ وَالْعَاجِزُ مَنِ اتَّبَعَ نَفْسَہٗ هَوَاهَا وَ تَمَنّٰى عَلَى اللهِ[۳۲] ،،

مطلب دا چې عقل مند دے هغه کس چا چې نفس تابع کړے وي او د مرګ نه پس ژوند دپاره تياري وکړي. او کم عقل دے هغه کس څوک چې د خپلو خواهشاتو (نفس) تابع وي. او د الله تعالىٰ نه امېد ساتي.

محدثين فرمائي چې ددې حديث نه دا مراد دې چې عقل مند دے هغه څوک ، څوک چې په خپل ژوند کښې د خپل قول و فعل محاسبه کوي. که چرته نېک عملونه ئې ډېر وي نو شکر دې اوباسي او که چرته بد اعمال ئې زيات وي نو توبه ګار دې شي.

حميد بابا په دې حقله داسې وېنا کوي.

د هرچا چې شي مفتي نفس او هوا
ناروا شي د جهان ورته روا

نفس شيطان چې د چابد ترفهمه ښۀ کا
هسې خوري زهرقاتل لکه حلوا [۳۳]

يو بل ځاے کښې حميدبابا وائي.

کوڼ او ړوند کړے هسې رنګ نفس و هوا

چې لرې سره روا او ناروا
نۀ به تۀ سرکشه نفس په بدو مور کړے
نۀ به شي زهر قاتل د چا دوا[۳۴]

د صحبت اثر :- د خبره تجربې نه ثابته ده چې بنده باندې خامخا د مجلسيانو اثر پرېوځي. که چرته د سړي ملګري نېک وي. نو دغه سړے به نېک وي. که يو بنده د بدو خلقو سره کښېني پاځي. نو دغه بنده به بد اخلاقه وي. په دې حقله حضور صلی الله عليه وسلم فرمائي :-

,, وَمَثَلُ جَلِيْسِ الصَّالِحِ كَمِثِلِ صَاحِبِ الْمِسْکِ اِنْ لَّمْ يُصِبْکَ مِنْہُ شِيئٌ اَصَابَکَ مِنْ رِيْحِہٖ وَمثَلُ جَلِيْسِ السَّوْءِ كَمَثَل صَاحِبِ الْكَبِيْرِ اِنْ لَّمْ يُصِبْکَ مَنْ سُوَادِہٖ اَصَابَکَ مِنْ دُخَانِہٖ[۳۵]

مطلب دا چې د نېک مجلسي مثال د صاحب مشک (عطار) دے. که هغۀ نه تاته مشک حاصل نۀ شي د هغې خوشبو به در ورسي. او د بد مجلسي مثال د آهنګر دے. که هغه تا ونۀ سوځوي په لوګي خو به دې تور کړي. رحمان بابا د صحبت اثر په دغه ټکو کښې بيان کړي دي.

په مجلس د عالمانو به سرۀ زر شي
که څوک کاڼے وي يا لوټه د سحرا[۳۶]

او حميدبابا ورته په دغه الفاظ کښې نظر کوي.

هر مجلس لري اثر د ښو او بدو
دا متل دے رښتنيو په رښتيا
په يوۀ ساعت مجلس د ناکسانو
افلاطون تر خولې اوباسي ماخوليا

شپون غوبه څکه سنګدله ويلاړه شي
چې روزګار ئې وي له کاڼو د ببديا

تېزتاثيرلري ترښواثرد بدو
دا خبره ازموده ده په بيابيا[۳۷]

REFRERNCES

1. Al-Quranulkarim, sura Al-Imran ayat no 109.
2. KaKa Khel, Bahadar Shah Zafar,Zafar ul Ghat ,Youniversity Book Agency khyber Bazar Pekhawear, page no 49.
3. Feroz uddin, Maulawe, feroz ulaghat urdu jamia,Feroz sons private limited,Lahore 2005,page no 77.
4.Antony Flow: golden rule, ''A Dictionary of Philosophy'', Pan books London, 1979, P.134.
5. Al-Quranulkari m, Sura Alqalam, ayat no 4.
6.Al-Quranulkari m, Sura Alahzab, ayat no 21.
7.Bukhari, Muhammad Ismail, sahiabukhari, dalulmarafta berut, Labnan, 2004, page no 907.
8. Malik Bin Anas mota Imam Malik, Kitab Husanulkhalak, jamia ahyaa altras islami Quait, 1998, page no 324.
9. Hamid baba, Dur ao Marjan, Muqadma ao Ihtimam , Dr,said Anwar ul Haq jalani,University book agency Pekhawar, page no 11.
10. Khattak, Khushal Khan,Arghaman Khushal, Muqadma Said Rasool Rasa,University book agency Pekhawar,2001, page no 49.
11. Rahman baba, Diwan Abdur rahman baba,Muqadma Said Rasool Rasa University book agency pekhawar, page no 142.
12.Hamid baba, Dur ao Marjan, Muqadma ao Ihtimam , Dr,said Anwar ul Haq jalani,University book agency Pekhawar, page no 2.
13. Ham dagha asar, page no 24.
14. Ham dagha asar, page no 39.
15. Al-Quran Alkarim, sura alqala, ayat no 4.
16. Khateeb tabreezi, wali ud din abi abdullah, Mishkat ul masabih,jild no 4/4, darulkutab alalmia Berut Labnan, 2003, hadis no 5213,page no 25.
17. Hamid baba, Dur ao Marjan, Muqadma ao Ihtimam, Dr, said Anwar ul Haq jalani, University book agency Pekhawar, page no 11.
18. Ham dagha asar, page no, 61.
19. Ham dagha asar, page no, 119.
20. Al-Quran Alkari, sura alhood, ayat no 18
21. Tarmizi,Isa, sanan tarmizi,darulmaroof berut Labnan, 2002, Hadis no 2030,page no 808.

22. Hamid baba, Dur ao Marjan, Page no 38.
23. Ham dagha asar, page no, 92.
24. Ham dagha asar, page no, 60.
25. Ghazali, Imam, ahya ulaloom udin, darul maroof berut Labnan, 2004, page no 1096.
26.Hamid baba, Dur ao Marjan, page no 3.
27. Ham dagha asar, page no 36.
28. Ham dagha asar, page no 78.
29. Ham dagha asar, page no 52.
30. Ham dagha asar, page no 43.
31. Al-Quranulkarim, sura alshams ayat no 10,9.
32. Tarmizi, Isa, sanan tarmizi,darulmaroof berut Labnan, 2002, Hadis no 2459,page no 974.
33. Hamid baba, Dur ao Marjan, Page no 4.
34. Ham dagha asar, page no 7.
35. Abi Daud, ibne alashat sajistani, jild 2,juz no 4, hadis no 4829, page no 259.
36. Rahman baba, Diwan Abdur rahman baba, Muqadma Said Rasool Rasa University book agency pekhawar, page no 19.
37. Hamid baba, Dur ao Marjan, Muqadma ao Ihtimam , Dr,said Anwar ul Haq jalani,University book agency Pekhawar, page no 2.